# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۳۱مه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۱مه | ۷۳۶مه گڼه


## کاروبار
۴ مخ

### ناسا

ناسا امریکايي فضايي او هوانوردي سازمان دی، چې کلنۍ بودیجه یې تر ۱۷ میلیاردو ډالرو اوړي. د شمېرو له مخې، دغه سازمان ۱۸ زره کارکوونکي لري چې په بېلو برخو کې فعالیت کوي.



## ماليې وزارت: اروپايي ټولنه د روانې میاشتې تر پایه له افغانستان سره ۱۰۱ میلیونه یورو مرسته کوي



ماليې وزارت وايي، چې د روانې میلادي میاشتې په وروستیو کې به د افغانستان ملي بودجې ته نږدې ۱۰۱ میلیونه یورو مرسته ور زیاته شي.
د یاد وزارت ویاند رفیع تابع وايي چې دغه مرسته د جنیوا کنفرانس د ژمنو پر بنسټ ترسره کېږي.
هغه زیاته کړې، چې په دې اړه د ماليې وزارت د همغږۍ، څارنې او راپور ورکونې عمومي رییس په مشرۍ د ماليې وزارت، اروپايي ټولنې او پلي کوونکو دولتي ادارو د با صلاحیته استازو تر منځ یوه ناسته هم جوړه شوې ده.
تابع وايي، په یاده ناسته کې د حکومت او اروپايي ټولنې ترمنځ د قرارداد جوړونې په چوکاټ کې د ژمنه شویو اصلاحاتو پلي کولو په برخه کې د دولت د پرمختگونو وروستی راپور تر غور لاندې نیول شوی او ټاکل شوې چې د دې راپور کاپي د یوې اونۍ په اوږدو کې په رسمي توگه د اروپايي ټولنې د سیاسي نمایندهگۍ په مرسته ولېږل شي.

# پر سولې ناندرۍ او د جگړو دوام؛

## ملا برادر: د سولې خبرو د بریا لپاره باید د دوحې تړون په بشپړه توگه عملي شي



۳

### چارواکي وروستیو بدلونونو ته معقول او مناسب ځواب وايي؟
۲ مخ

### د ترکیې شکېلتیا به نور حساسیتونه را وپاروي
۲ مخ

### د پردیو گټو لپاره پر افغان ولس بل شوی اور
۳ مخ

## حامد کرزی: امریکا په افغانستان کې ماته شوه، خو تر شا ناورین پرځای پرېږدي

پخوانی ولسمشر حامد کرزی وايي، امریکا له افغانستانه وځي، خو تر شا یو ناورین پرځای پرېږدي. نوموړي له اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس سره په مرکه کې ویلي، په داسې حال کې چې امریکا شل کاله وړاندې افغانستان ته د ثبات د ټینگښت او له افراطیت سره د مبارزې په موخه راغلې وه، خو نن افراطیت په خپل اوج کې دی او امریکا د ځواکونو تر وتلو وروسته افغانستان په ناورین کې یرېږدي او خپل سرتېري وباسي.
خو له دې سره سره، حامد کرزي له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو ټینگار کړی او وايي، چې په افغانستان کې اوسنی وضعیت د بهرنیانو د حضور نتیجه ده او افغانان نه غواړي چې نور دا غمیزه او بې عزتي دوام پیدا کړي.
حامد کرزی داسې مهال دغه څرگندونې چې ټاکل شوې د روان کال د سپټمبر تر ۱۱مې به ټول امریکايي او نړیوال ځواکونه له افغانستانه ووځي. که څه امریکا ویلي چې له طالبانو سره د دوحې هوکړې پر بنسټ به د تاوتریخوالي کچه راټیټېږي، خو په دې وروستیو کې نه یوازې دا چې جگړې کمې نه شوې، بلکې شدت یې اخیستی او هره ورځ پکې دواړو لورو ته لسگونه افغانان وژل کېږي او ټپیان کېږي.

## سپینه مانۍ: د روانې جون میاشتې په ۲۵ مه به ولسمشر غني او عبدالله امریکا ته سفر وکړي




۳ مخ

## رئیس جمهور غنی: جامعه بین‌المللی به طالبان حیثیت سیاسی داده است



محمداشرف غنی، رئیس جمهور کشور، می گوید که جامعه بین‌المللی به طالبان حیثیت سیاسی داده است. غنی در مراسم گرامی‌داشت از روز جهانی پناهنده‌گی در ارگ ریاست جمهوری گفته است که طالبان مسوول ادامه جنگ اند و همه روزه تاسیسات عامه را تخریب می کنند و غیرنظامیان را هدف قرار می‌دهند.
رئیس جمهور افزوده است که جنگ تحمیلی و غیرمشروع طالبان باید از سوی منطقه و جامعه بین‌المللی تحریم و محکوم شود. غنی از کشورهای منطقه به ویژه پاکستان و ایران خواسته است تا در ایجاد ثبات، صلح پایدار و عادلانه در افغانستان تعلل نکنند.
محمداشرف غنی در این نشست مهاجران و دیاسپورا را جز لاینفک «ملت و سرمایه ملی» کشور خوانده و گفته است که براساس قانون اساسی، حق شهروندی هیچ افغان سلب شده نمی‌تواند.
غنی افزود که هشت برنامه ملی تحت دیزاین و در حال تطبیق شدن است و کمک‌های بین‌المللی در این خصوص باید نتیجه محور باشد، نه پروسه محور.
این در حالیست که محمداشرف غنی دو روز پیش نیز اعلام کرد که جامعه جهانی باید بپذیرد که طالبان به صورت عمدی حقوق بشر را نقض می کند.
او افزود که طالبان به جای صلح بر جنگ تاکید میکند و به همین اساس مسؤل وضعیت کنونی کشور نیز طالبان می‌باشند.


## تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

# چارواکي وروستیو بدلونونو ته معقول او مناسب ځواب وايي؟

په افغانستان کې امنيتي حالت ورځ تر بلې خرابېږي، طالبان هره ورځ نوي ولسوالۍ نيسي، سيمې لاندې کوي او امنيتي ځواکونه په شاتګ کوي. دا کار په چټکۍ روان دی، خو حکومت وايي طالبانو پرمختګ نه دی کړی، ولسواليو سقوط نه دی کړی او ډېر ژر به بېرته له لاسه وتلې سيمې ونيسو. حکومت دا هم وايي چې خلک دې له امنيتي ځواکونو سره مرسته وکړي، تر څنګ يې دې ودرېږي، وسله دې واخلي او د خپلو سيمو په خوندي کولو کې دې مرسته وکړي. د دې تر څنګ دولت د امنيتي ادارو په رهبرۍ کې بدلونونه راوستل او تمه لري چې دا بدلونونه به د حالاتو له کابو کولو سره مرسته وکړي.

خو ايا وروستيو بدلونونو ته دا غبرګون معقول او مناسب دی؟

لومړۍ ستونزه خو دا ده چې دولت لا هم ناوړه حالت نه مني او وايي چې نه ولسوالۍ سقوط شوې او نه هم طالبانو پرمختګ کړی، بلکې هر څه سم دي. دا کار ښايي دوی د رواني جګړې په موخه کوي، خو خلک چې کله يو څه ويني، بيا کله په هغه څه باور کوي چې اوري يې. له همدې امله حکومت بايد د توجيه کولو او انکار پاليسي پرېږدي، بلکې واقعيت ومني او خلکو ته واضح ووايي چې د دغو بدلونونو او ستونزو پر وړاندې څه کوي. حکومت چې تر اوسه پورې څه وايي او څه کوي، داسې نه ښکاري چې د ستونزو له حل سره به مرسته وکړي. لومړی کار چې دولت کړی هغه د امنيتي ادارو په رهبرۍ کې بدلونونه دي چې له بده مرغه مثبت نه دي، ځکه چې د مثبتو بدلونونو لپاره بايد پر وړ، مسلکي او پوهو خلکو تکيه شوې وای، خو اوس تکيه بيا هم پر سياسي معاملو او انډيوالبازيو ده. له بله اړخه د امنيتي ځواکونو د رهبرۍ په ځينو پوستونو کې دومره ژر بدلونونه راځي چې په هېڅ ډول نه شي توجيه کېدلی. د بېلګې په ډول، يوه اونۍ وړاندې د کورنيو چارو وزارت لپاره يو معين وټاکل شو، خو پرون يې پر ځای بېرته بل څوک راغی. د ملي امنيت يو مهم مرستيال دوې مياشتې دنده پوره نه کړه، د کورنيو چارو وزارت دوه نور معينان هم ايله څو مياشتې پر دنده پاتې شول، دفاع وزارت کې هم همدا حال دی. د رهبرۍ دومره په سرعت بدلول ستونزې او ګډوډۍ لا زياتوي او د حالاتو له ښه والي سره مرسته نه کوي. له بله اړخه دولت پر خلکو غږ کوي چې خپله وسله واخلي او د طالبانو پر وړاندې ودرېږي. د دفاع وزارت نوي سرپرست همدا خبره کړې ده. دولت په دې کار سره دوه ناسم پيغامونه لېږدوي، لومړی دا چې ګواکې امنيتي ځواکونه نور د طالبانو پر وړاندې د درېدو پلان نه لري، خلک بايد خپله دا کار وکړي. دويم دا چې دولت غواړي ملېشې جوړې کړي او پر هغو تکيه وکړي. دا واضح ده چې کله رسمي پوځ او ځواکونه د طالبانو پر وړاندې ونه شي درېدلی، نو ملېشې به څنګه ودرېږي. دولت د دې پر ځای چې پر خپلو امنيتي ځواکونو تکيه وکړي، ښه يې رهبري کړي، پر ملېشو تکيه کوي چې دا خپله د امنيتي ځواکونو د کمزورۍ کولو لامل کېږي.

د دولت مشرانو ګامونه داسې دي لکه وارخطا چې وي، لکه لاره يې چې ورکه کړې وي او هر څه ته لاس اچوي. دا ډول ګامونه به ستونزې لا زياتې کړي، نو ځکه غوره دا ده چې په دې وخت کې معقول، مناسب او وړ ګامونه واخيستل شي. اوس بايد دولت ثابت او پياوړي ګامونه واخلي، نور ناوړه معاملې پرېږدي او د خلکو د ګټو پر اساس پرېکړې وکړي. تر ګردو مهم کار دا دی چې د حالاتو د کنټرول او امن لپاره سياسي ګامونه واخيستل شي، پر سوله او جوړجاړي ټينګار وشي او حکومت له خپله اړخه داسې ګامونه واخلي، چې د خلکو ملاتړ را خپل کړي، محبوبيت پيدا کړي او مقابل اړخ هم اړ کړي چې د جګړې پر ځای سولې ته راشي.

# د ترکيې ښکېلتيا به نور حساسيتونه را وپاروي

ليکنه: عبدالوحيد وحيد

شک نشته چې زموږ هيواد له تېرو څو لسيزو راهيسې د ګاونډيانو سيمې او نړيوالو تر منځ د رقابتونو، تربګنيو او زور ازموينې ډګر ګرځېدلی دی. شورويانو امپرياليزم په افغانستان کې مهار کاوه، امريکا او اروپا خپل دښمن د هغوی کور ته له ورتلو وړاندې دلته وژني، پاکستان زموږ په خاوره خپل بالفعل او بالقوه دښمن وهي. هند دلته لوبيږي، ايران زموږ په هيواد کې امريکا او سعودي ته خپل زور ښيي، روسيه او چين هم لاس تر زنې نه دي ناست، د خپلو ګټو د خونديتوب لپاره د نورو په پرتله محتاطانه لوبيږي، حالات څاري او وقتاً غبرګون ښيي، خو چينايان په خبرو نه، بلکې په کار کولو موخې تر لاسه کوي. زما په اند دغه دواړه هېوادونه په افغانستان کې سولې ته له خپلو ګټو سره غوټه ورکوي، خو بيا هم په هر حال د متمايل سياست خپلولو لپاره لومړيتوبونه او A B C پلانونه هم لري.

افغانستان او ترکيې د تاريخ په اوږدو کې خورا نږدې او دوستانه اړيکې درلودلې او دا افغانستان و چې له شوروي اتحاد وروسته يې د معاصرې ترکيې جمهوري حکومت په ۱۹۲۳ کال کې په رسميت وپېژانده. د دواړو هېوادونو تر منځ اړيکې د تل لپاره دوستانه پاتې شوې دي.

البته له افغانستان سره د ياد هيواد د تاريخي اړيکو له شتون سره سره ترکيه له تېرو دوو لسيزو راپدېخوا د ناټو په چوکاټ دلته شتون لري او لوبيږي. که له ترکتبارو افغانانو سره يې ښکېلتيا زياته هم وه، خو موږ ته دومره د اندېښنې وړ نه وه. ترکيه له افغانستان سره د زده کړو او د امنيتي ځواکونو د روزنې په برخه کې مرسته کوي. ليکن د ترکيې د اوسني حکومت د اسلامپالۍ له دعوې او د اسلامي نړۍ قيادت سمبالولو ته له هڅو سره سره د پان ترکيزم د را ژوندي کولو هڅې د هغوی اسلامي روحيه تر پوښتنې لاندې راولي. پان ترکيزم او د امت د اتحاد هدف ته رسيدل جدا لارې لري او جدا موخې دي. اتکل کيږي چې ترکيه د خپل عظمت رفته د را ژوندي کولو لپاره د اسلام او تبار دواړه کارتونه کاروي.

دوستم په افغانستان کې د توپک د شپيلۍ په زور د مخالف اړخ د تهديد توهين او تحقير تاکتيکونو په کارولو د ازبک قوم د مشرتابه له دعوې سره سره بيا هم د عامو افغانانو تر منځ د ستر جنګي جنايتکار، د پرديو د لاس اله او اخلاقي مجرم په توګه پيژندل کيږي. په تيرو دوو لسيزو کې د ځينو نوموتو شخصيتونو په ابرو باندې د تجاوز په قضيو کې د ککړتيا له امله له عدلي او قضايي تعقيب څخه د ترکيې د حکومت لخوا د دوستم د ژغورلو متکررو هڅو پر دغه هيواد باندې زموږ د باور کچه ټکنۍ کړې ده.

اوس چې د ناټو ځواکونو په بشپړه توګه له افغانستان څخه د وتلو ژمنه کړې ده او ترکيه هم د ناټو فعاله غړې هيواد دی، نو پاتې کيدل به يې يقيناً د ترون ماتېدل وي. داسې ښکاري چې دغه هېواد له امريکا او پاکستان سره د کومې معاملې په نتيجه کې د کابل د هوايي ډګر د ساتلو مسووليت اخيستو ته ملاتړلې ده. د افغانستان په مسئله کې د يادو دريو واړو له دوه مخو سياستونو او مشکوک شاليد ته په کتو په اوسني مبهم حالت کې د کابل د هوايي ډګر ساتلو لپاره د ترکيې د ځواکونو پاتې کيدل د افغانانو په ذهنونو کې لاندې پوښتنې را پورته کوي:

۱- يوازې د هوايي ډګر ساتل د افغانستان خلکو ته په زغرده اعلان دی چې د سقوط اوسنی جريان دوام مومي او پلازمېنه کابل سقوط کوي او يو ځل بيا ملوک الطوايفي جوړيږي چې د کابل هره ناحيه او کوڅه د مختلفو اړخونو لخوا د مرګونو چور او وحشتونو شاهده واوسي.

۲- افغانان به داسې وګڼي چې نړيوال د ګډوډۍ ننبې ويني او يا هم د منفي نظر څارونکي افراد به دغه نوښت ته د دسيسې او انارشي جوړولو نړيوال پلان برخه وګڼي او داسې به وانګيري چې ارګ او نړيوال يوازې د ځانونو د خوندي ايستلو لپاره د يوې لارې پرانيستل ساتل غواړي. نور افغانان ورته نه اهميت او نه هم ارزښت لري. داسې وضعيت رامنځته کوي چې خدای مه کړه د افغانستان د دښمنانو له پلانونو سره سم د دغه هېواد د تجزيې لامل شي.

۳- امريکا پوهيږي چې د چين لخوا په سينکيانګ ايالت کې د ستر سوداګريز ازاد زون جوړول او يوه لاره يو کمربند پروژه بالفعل او بالقوه توګه د چين اقتصادي وده لوړوي او بيا به يې امريکا رقابت ونشي کړای. په سينکيانګ ايالت کې د چين په نوښت جوړېدونکی ازاد سوداګريز زون په داسې سيمه کې موقعيت لري، چې ډېری خلک يې ترک تباران دي او چين لا دمخه د دغې سيمې په ناامنۍ کې له امريکا سره په همغږۍ د ترکيې په لاس لرلو شک لري.

۴- له بشپړ وضاحت او د افغانانو له باور تر لاسه کولو پرته به زموږ هيوادوال فکر وکړي چې د ترکيې لخوا د کابل د هوايي ډګر ساتل به د ترکيې د پان ترکيزم خوب ته تعبير د موندلو لاره هواره کړي او له پاکستان سره د ډيورنډ ستونزې ختمولو کې به مرسته وکړي او د امريکا د ولسمشر بايډن په فکر په دريو برخو باندې د افغانستان د ويش خيال د تحقق خوا ته به پرمختګ ولري.

۵- چين به د خپل نيمه خپلواکې سيمې سينکيانګ او هلته د اوسني اغيزمنوونکي امنيت په تړاو ممکن غبرګون وښيي او روسيه به په خپل ګاونډ کې د اندېښنې وړ افراطيت او توندلارۍ ته د ودې ورکولو او د هغوی تر اثر لاندې سيمو د ناامنه کولو خطر پر وړاندې يوازې په ننداره کولو باندې بسنه ونه کړي.

٦- موږ ښه پوهېږو چې موږ په اسانۍ سره زيان منونکی هيواد لرو. ايران به د رقابتونو په منډه کې حتماً په داسې کړنو لاس پورې کړي چې زيان به يې موږ وينو او هغوی به زموږ زيانونه د خپلو ولسونو او خاورې د دفاع په نوم د توجيه وړ ګڼي.

۷- د پاکستان په دولتي تګلارو باندې زه هم ملاحظات او نيوکې لرم، خو هيڅ ډول شک نه لرم چې د پاکستان خلک زړه سواندي او لوی نيتي ولس دی. البته د پاکستان امنيتي ارګانونه توندلارې، افراطيت او راديکاليزم ته د ستراتيژۍ له مخې په وده ورکولو کې د نړيوالو په اند پاکستان ته ګوته نيول کېږي. د کابل د هوايي ډګر ساتلو په پلان کې د پاکستان ښکېلول د ګاونډيانو او سيمې په کچه په ځانګړي ډول د هند، ايران او منځنۍ اسيا د هېوادونو حساسيتونه را پاروي او زموږ ملي ګټې به ونګوي.

که بيا هم د ترکيې د نظامي ځواک شتون اړين وي، نو حکومت بايد د مسووليت له مخې خپل ولس ته حقايق او اړتيا په ګوته کړي چې د کومو مجبوريتونو له امله يې دغه وړانديز قبول کړ. په دغه هکله د حکومت چوپه خوله پاتې کيدل ستر زيانونه رامنځته کولای شي. حکومت مکلفيت لري چې په دغه حساس تاريخي پړاو کې زموږ د هيوادوالو په اندېښنو باندې ځانونه پوه او له داسې نوښتونو څخه ډډه وکړي، چې موږ ته د ستونزو د لازياتيدو لامل ګرځي.

د افغانستان خلک بايد پوه شي چې يوازې د ترکيې د پوځي ځواک پاتې کيدل د کومو موخو لپاره دي؟ متبادل لري که نه؟ او دغه کار ولې بل يا نور هيوادونه نشي کولای؟

که د پردې تر شا نورې پټې موخې نه وي، يوازې د بهرنيو او کورنيو بنسټونو باور تر لاسه کول موخه وي، نو په کابل کې د ډيپلوماتيکو مراکزو، کورنيو او بهرنيو موسساتو د خونديتوب لپاره نورې لارې او متبادل غوراوي هم شته. که نظامي حضور ته اړتيا هم وي، نو داسې هېوادونه هم شته چې په افغانستان کې د لاسوهنو په تور پړه نه ګڼل کيږي او که امريکا ورته د ترکيې په شان د حمايت باور ورکړي، نو دلته راتلل به يې غبرګونونه نه راپاروي.

# روغتيا وزارت: له کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه اوسني تجهيزات بسنه نه کوي




په هېواد کې د کرونا ويروس د مثبتو پېښو او د دغه ويروس له کبله د مړو شويو کسانو د شمېر له ډېرېدو سره هممهال، د يو شمېر ناروغانو کورنۍ په روغتونونو او بازارانو کې د اوکسيجن له کمښت څخه شکايت کوي.

د کابل ښار اوسېدونکی کبير وايي چې د کورنۍ څو غړي يې پر دغه ويروس اخته شوي او زياتوي چې د اوکسيجن کمښت دوی ته په لويه ستونزه بدل شوی دی. نوموړی وايي، دولتي روغتونونه د دوی اړتياوو ته رسېده‌ګي نه شي کولی او په بازارونو کې د اوکسيجن بيه ډېره لوړه ده. د هغه په خبره: «د اوکسيجن کمښت زيات دی او دا ډېره ستونزمنه ده، ډېری کسان هم چې مړه کېږي، وجه يې سل په سلو کې د اوکسيجن کمښت دی، څو ورځې مخکې ما خپله په خيرخانه کې يو بالون اوکسيجن په ۲۵ زره افغانۍ واخيست.»

په ورته مهال، عامې روغتيا وزارت هم مني چې د کرونا ويروس ناروغانو ته د اوکسيجن کمښت يوه لويه ستونزه ده.

د دغه وزارت سرپرست وحيد مجروح تېره ورځ په کابل کې د يوې خبري غونډې پرمهال وويل چې روغتونونو ته پر ياد ويروس د اخته کسانو مراجعه ډېره ده، خو د دوی تجهيزات کم دي.

د نوموړي په خبره، په ولايتونو کې د کرونا د درملنې د روغتونونو وړتياوې دوه چنده شوي، خو وايي، د زياتو بسترونو رامنځته کولو ته لا هم جدي اړتيا ليدل کېږي.

مجروح زياتوي: «يو عمده لامل چې موږ لا هم خپل بسترونه نه زياتوو، هغه دا چې لومړی بايد اوکسيجن د تمويل سرچينې پيدا کړو، بيا به وروسته بسترونه زيات شي، موږ د بسترونو د زياتولو لپاره په هره اندازه چې وي لازم، چمتووالی لرو.»

د مجروح په خبره، به کابل کې د کرونا ويروس د درملنې لپاره ځانګړي شوي ټول روغتونونه په اوکسيجن سمبال شوي دي. د عامې روغتيا وزارت سرپرست وايي، د هرات ولايت د عامې روغتيا رياست او په ايران کې د مشهد پوهنتون ترمنځ د شوې هوکړې پربنسټ به د اکسيجن د توليد په موخه په اونيز ډول ۴۰ ټنه مايع ګاز هغه ولايت ته ولېږدول شي چې لومړنۍ محموله يې پرون هرات ولايت ته ورسېده.

نوموړی وايي، هغه ۳۵۰۰ بالونه اکسيجن چې له ايرانه اخيستل شوي وو، ۹۰۰ بالونه يې د هرات پولې ته رارسېدلي دي.

# د پردیو ګټو لپاره پر افغان ولس بل شوی اور

طارق صابر

په دوحه کې د سولې خبرې له سره پیل شوې دي؛ په داسې حال کې چې جګړه لا هم شدت لري. تر اوسه له دېرشو زیاتې ولسوالۍ د طالبانو په لاس سقوط دي او په ۷۰ نورو کې جګړه روانه ده. په کابل کې هدفي وژنو یو ځل بیا زور اخیستی دی. دوه ورځې مخکې په دهمزنګ څلورلارې کې درې تنه ناپېژندو وسلوالو وژلي او پر هزاره قوم بریدونه هم ډېر شوي دي.

طالبان ولسوالۍ او سیمې سقوط کوي، حکومت په ځینو سیمو کې تکتیکي شاتګ ته مخه کړې او وايي چې نیول شوې ولسوالۍ به د دې ډلې په قبرونو بدلې کړي. په دې وروستیو کې طالبانو داسې ذهنیت خپل کړی، چې ولایتونه او لوی ښارونه پوره ونیسي. دولت یې پر وړاندې غبرګون ښیي او بېرته هغه سقوط شوې سیمې، چې نظر نورو ته امنیتي او جغرافیوي ارزښت لري، د جګړې په زور خپلوي.

د سولې پخ بهیر، جګړو، پر طالبانو او حکومت د بې باورۍ سیوری غوړولی دی او خلک یې پر سوله شکمن کړي دي. امریکا هم خپل فشارونه پر دواړو غاړو یو څه کم کړي او ننداره یې کوي، چې (حکومت او طالبان) څه کوي. په کور دننه سیاسي اجماع نه تر سترګو کېږي، ځای یې نظامي اجماع، د طالبانو پر وړاندې ملیشې جوړولو او ائتلافونو نیولی دی. د راپورونو له مخې، ویل کېږي چې د افغان سیاسیونو یوه ډله دوحې ته د مذاکراتو د چټک کولو په موخه روانه ده؛ خو تر اوسه طالبانو په دې اړه هېڅ هم نه دي ویلي چې له دې ډلې سره به دوی وګوري او که نه. په دغه سیاسیونو کې د افغانستان پخوانی ولسمشر حامد کرزی، یونس قانوني، کریم خلیلي، د ولسمشر اشرف غني سیاسي سلاکار اکرم خپلواک، بابر فرهمند او ځینې نور کسان شامل دي.

د سیمې ځینو هېوادونو د خپلسرو ملیشو جوړولو ته زور ورکړی دی. پر دوی وسلې وېشي، اقتصادي ملاتړ ترې کوي، څو خپل نفوذ په افغانستان کې پیاوړی او په روانه لوبه کې ډېر څه خپل کړي.

په تېر کې هم ملیشو د مرکزي دولت لپاره سر خوږی جوړ کړی دی. کله چې امکانات پرې بند شي، ناامنۍ او بې نظمۍ ته لاسونه بډ وهي او له دې لارې باج اخلي. ځینې جګړه مارو د ملیشو په زور رتبې اخیستې، امکانات یې ترې لاسه کړي او په لوړو دولتي څوکیو یې تکیه کړې ده. دا کسان په سوله کې خپل امکانات بایللی شي؛ له همدې امله ناامنۍ ته لار هواروي او د پردیو ګټو لپاره د عامو خلکو د وژلو په بیه د جګړې لمبې تودوي.

همدا راز پر هزاره توکم پرله‌پسې بریدونه دا په ډاګه کوي، چې د جګړې داستان یو څه بدل شوی دی. دا بریدونه ځینې نسل وژنه بولي او هزاره ګان یې دې ته اړ کړي، چې وسله پورته کړي او له خپل ځان او مال ساتنه وکړي. سیمه ییز لوبغاړي بیا له دې فرصته ګټه اخلي او وسلې ورکوي. که دا حالت همداسې دوام وکړي، د دې قوم احساسات لا پاروي. کله چې وسله واله مبارزه پیل کړي، نور قومونه به د خطر احساس وکړي او د دوی پر وړاندې به پورته شي. مذهبي او قومي تعصباتو ته په کتو که وضعیت همداسې دوام وکړي، وېره شته چې د روانې جګړې لوری، پر مذهبي او قومي جګړو واوړي.

اوس طالبان او حکومت پر جګړه تمرکز لري. حکومت به هڅه وکړي چې نیول شوې ولسوالۍ له طالبانو خپلې کړي او دا ډله به هم کوښښ وکړي، چې تر خپلې ولکې لاندې یې وساتي. د دوی دواړو په دفاعي او یرغلیز حالت کې به عام ولس په وینو ولامبي.

روانه جګړه هر ورځ پر افغانانو خاورې اړوي، خویندې، میندې مو کونډې- بورې او کوچنیان مو یتیمان کېږي. د دې جګړې شاته د پردیو پالیسۍ دي او اور یې خپله د افغانانو په لاسونو بل کړی دی. شک نشته چې د روان تاوتریخوالي په سر کې امریکا ده. دې هېواد خپل نظامیان له جګړو خوندي کړي دي او غواړي ووځي. وروستیو ناامنیو امریکا ته ښه تبلیغاتي فرصت په لاس ورکړی دی؛ ګټه به ترې واخلي، په سیمه او نړۍ کې به داسې ذهنیت جوړ کړي، چې د امریکا حضور له خیر او ښېګڼې پرته بل څه نه و.

همدارنګه په سیمه کې به د خپل حضور لپاره پلمه جوړه کړي، چې ګنې تروریزم بیا په افغانستان کې سر راپورته کوي او د مدیریت لپاره یې باید په سیمه کې حضور ولرو. پنټاګون هم ویلي، چې القاعده په افغانستان کې بیا فعاله شوې او کېدای شي دوه کاله وروسته د امریکا لپاره خطر پېښ کړي. امریکا د عامو افغانانو ذهنیت هم خپلوي، ځکه پر طالبانو او حکومت بې باوره شوي او یوازې دا هېواد د ځان او مال ساتلو لپاره ښه بدیل بولي.

د سیمې هېوادونه هم ګټې لري او دا ګټې متضادې دي؛ له همدې امله د کورنیو کړیو په وسیله نیابتي لوبه پر مخ وړي.

پکار ده چې د سولې له فرصته استفاده وشي او دې بهیر ته داسې لوری ور نه کړل شي، چې جګړه لا اوږده، ګرمه او خونړۍ کړي. د سیاسیونو ذهنیت د ملیشې جوړولو پر ځای، ښه ده چې پر سیاسي اجماع متمرکز شي او دوی ته ښايي چې د سولې له مخې خنډونه لرې کړي، په داسې حال کې چې اوس یې خپله جوړوي.

که څه هم توپ د افغانانو په میدان کې دی، خو د لوبولو واک یې له امریکا سره دی. د جګړې دواړې غاړې باید هڅه وکړي، چې خپلواکې شي او توپ داسې ولوبوي، چې د ولس په ګټه وي. که طالبان د سیمو د سقوط فکر لري، حکومت یې د نیولو هوډ لري او بیا په داسې یوه حالت کې له افغان وژنې پرته بل څه نه پېښېږي. په سوله کې د دواړو لورو خیر دی. خو که په دې پروسه کې شخصي، ګوندي او پردۍ ګټې وپالي او زور ازمايي وکړي، سوله به و نشي؛ ډېر ناوړه قضاوت به پرې وشي او د افغانستان د تاریخ د تورو پاڼو یوه برخه به وګرځي.

# سپینه ماڼۍ: د روانې جون میاشتې په ۲۵ مه به ولسمشر غني او عبدالله امریکا ته سفر وکړي



سپینې ماڼۍ ویلي، چې د روانې جون میاشتې په ۲۵ مه به ولسمشر غني او د ملي مصالحې د عالي شورا مشر عبدالله عبدالله د ولسمشر بایډن په رسمي بلنې امریکا ته سفر وکړي.

د سپینې ماڼۍ ویانک جین ساکي وايي چې امریکا ته د دغو دوو افغان چارواکو په سفر کې به له افغانستان د امریکایي ځواکونو پر وتلو، د افغان سولې پر بهیر، دوو اړخیزو همکاریو او دغه راز د ځواکونو له ایستلو وروسته له افغانستان سره په اقتصادي، ډیپلوماتیکو او نورو بشرپالو برخو کې له افغانستان سره د امریکا د مرستو پر دوام خبرې وشي. د سرچینې په خبره، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به له دغه هېواد سره د امریکا مرستې دوام کوي او متحده ایالتونه به هېڅکله اجازه ورنه کړي چې افغانستان یو ځل بیا د ترهګرو ډلو پر خوندي مرکز بدل شي او له دغه ځایه امریکا او نور متحدین یې وګواښي.

# پر سولې ناندرۍ او د جګړو دوام؛

## ملا برادر: د سولې خبرو د بریا لپاره باید د دوحې تړون په بشپړه توګه عملي شي




په هېواد کې د روانو جګړو د شدت او د سولې پخ بهیر په دوام، د طالبانو د قطر دفتر مشر ملا عبدالغني برادر په خپلې تازه لیکنې کې ویلي، چې دوی د خبرو له لارې د افغان کشالې پر حل باور لري.

دا لیکنه چې د طالبانو پر رسمي وېبپاڼه خپره شوې، برادر پکې لیکلي چې دوی د خبرو له لارې د ستونزې پر حل باور لري، خو د سولې خبرو بریا یې د دوحې د هوکړې د عملي کېدو ترڅنګ د خپلو پاتې بندیانو د ازادۍ او د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې له تورو لیستونو څخه د خپلو مشرانو د نومونو په ایستلو پورې تړلې بللې.

د طالبانو د سیاسي دفتر د مشر په لیکنه کې د افغانستان په راتلونکي نظام کې د ټولو افغانانو ګډون، برابرۍ او انډول ته هم اشاره شوې او ویلي یې دي: « د اسلام دین او د افغاني ټولنې د عنعناتو په رڼا کې د نارینه او ښځینه وګړو ټولو حقونو؛ لکه د بیان ازادي، ښوونه او روزنه، کار او نورو ..... ته ژمن یو».

برادر دغه راز په راتلونکي نظام کې د لږکیو حقوقو د خوندیتوب ډاډ هم ورکوي، خو له نړیوالې ټولنې غواړي چې اجازه ورکړي، ترڅو افغانان د خپلمنځي خبرو له لارې د راتلونکي نظام د جوړښت په اړه یوې هوکړې ته ورسېږي.

نوموړي ډاډ ورکړی، چې د افغانستان خاوره به د هېچا پر ضد و نه کارول شي او نه به هم د افغانستان په چارو کې چا ته د لاسوهنې حق ورکړل شي.

د طالبانو د سیاسي دفتر مشر د بهرنیو ډیپلوماتیکو بنسټونو، مرستندویه ادارو او کارکوونکو د امنیت غبر هم پورته کړی او له ځوانانو یې هم غوښتي چې په خپل وطن کې پاتې شي او خپلو چارو ته دوام ورکړي. د طالبانو د قطر د دفتر مشر داسې مهال په خپلې لیکنې کې نرمه ژبه کارولې، چې په دې وروستیو کې یې جنګیالیو د هېواد په ګوټ ګوټ کې جګړو او بریدونو ته زور ورکړی او په تېره یوه اونۍ کې یې له لسو زیاتې ولسوالۍ تر خپلې ولکې لاندې راوستې دي.

په ورته مهال افغان حکومت بیا وايي، چې طالبانو د سولې خبرو پر ځای د جګړې پر ډګر تمرکز ډېر کړی او غواړي چې د زور له لارې ځان واک ته ورسوي. ولسمشر غني ورمه ورځ په ارګ کې د امنیتي ادارو د نوې رهبرۍ د معرفي کولو په مراسمو کې وویل چې طالبانو روانه جګړه پیل کړې او د هر ډول پایلو مسوولیت به هم د دغې ډلې پر غاړه وي. نوموړي ټینګار وکړ، چې دوی د سولې لپاره واضح او جامع طرحه وړاندې کړې، خو طالبانو بیا د سولې پر ځای د زور له لارې د واک ترلاسه کولو لپاره هڅې ډېرې کړې دي. نوموړي خبرداری ورکړ، چې طالبان د زور له لارې واک ته نه شي رسېدلی.


ولسمشر غني دغه راز پر نړیوالې ټولنې هم نیوکه وکړه چې طالبانو ته یې سیاسي حیثیت ورکړی او له دې ټولنې یې وغوښتل چې د طالبانو له لوري پر روانو فعالیتونو بې طرفه پاتې نه شي او دا ومني چې دغه ډلې د افغانانو بشري حقونه تر پښو لاندې کړي دي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر




هغه به ویل: «ډیلي ولې په دې نه پوهېږي، چې کله موږ له حریت سره ګورو، موږ له تاسې سره مرسته کوو، ځکه موږ حریت ته وایو، چې باید له ډیلي سره خبرو ته کېني.» (حریت د ۲٦ سیاسي، ټولنیزو او مذهبي سازمانونو ائتلاف دی، چې د ۱۹۹۳کال د مارچ په نهمه رامنځته شوی او د کشمیریانو د بېلتون لپاره له واحد ادرسه سیاسي هڅې کوي. ژباړن)

سېنها: کله چې د مذاکراتو یادونه کېږي، تاسې ته داسې نه ښکاري، چې جنرال صېب هڅه کوي، چې استبلشمنټ له یوې لارې کنګل پرېږدي؟ په داسې حال کې چې تاسې غواړئ استبلشمنټ په دې پروسه کې راښکېل شي.

دولت: زه وایم چې بېچاره کشمیریان دومره ستړي شوي، که ورته ووایئ، چې ورځئ هر څه چې غواړئ هماغسې وکړئ، نو باور به یې رانشي. کېدای شي ووایې، چې په دې کې هم حتماً څه چل دی.

دورانی: استبلشمنټ باید په کې ښکېل وي، ځکه که تاسې غواړئ کوم ګام واخلئ، نو هغه به پیغام درکړي چې مخکې ځئ، خو د مذاکراتو د پروسې پر مهال باید په خونه کې نه واست.

دولت: موږ یو وخت داسې مرحله غوښته چې ترمنځ مو تګ راتګ او سوداګري پیل شي. د کشمیر خلک خوشاله وو.

دورانی: دا پروسه په حقیقت کې د استبلشمنټ اهداف مختلوي. استبلشمنټ هره موضوع په دې کاټې تلي، چې آیا دا د هند په ګټه ده که د پاکستان؛ له همدې ارزونې سره هر څه دربېږي او د ویزو او اجازه لیکونو صدور ځنډول کېږي.

دولت: آیا په سند کې امرکوټ شته دی؟

دورانی: امرکوټ، هو، د پاکستان سند کې شته دی.

دولت: پام وړ او ستره هندو ټولنه ده.

دورانی: رښتیا ده.

دولت: عموماً ټاګور پکې اوسي. زموږ د جیپور یوه نجلۍ هلته واده شوې ده. څو کاله وړاندې مې په ډیلي کې د هغې له خسر سره ولیدل. یو لوړ دنګ سړی و، چې ډېر غږ یې درلود. ورته مې وویل، ټاګور صېب ته یو خاموشونکې آلې (خپ کن) ته اړتیا لرې، ځکه غږ دې ټول کلی خبروي.

هغه وویل: موږ هندوان پر دې سیمې د ځښتنانو په توګه واکمن یوو. هېڅ ستونزه نه لرو. هولي او دېوالي داسې نمانځو لکه په راجستان کې چې نمانځل کېږي.ټول مشران مو راځي. د پاکستان د خلکو ګوند ټول ملاتړي هم راځي. د هند ستونزه څه ده؟ ولې دا ستونزه نه هوارېږي؟

دورانی: نن چې څه نشته، نو دا مه وایه، چې هېڅ وخت به نه وي.

دولت: خوښېږي مې چې له مهاراجا امارېندر سېنګ سره لاهور کې وګورم. هغه فکر کوي، چې مهاراجا رنجیت سېنګ تعقیبوي.

دورانی: د مهاراني په توګه به څوک ورسره ملګرې شي؟

دولت: زموږ مهاراجا له وړاندې مهاراني لري.

### ۳۳
### د لېونتوب پای

دورانی: ددې پروژې لپاره زما د لېوالتیا د لامل تر شا یو جلا درک موجود دی. له تقاعد څخه راوروسته له ډېرو داسې مسایلو خبر شوی یم، چې بهر خلک یې وایي او دا له هغو اطلاعاتو سره خورا متفاوت دي، چې ما د کار پر مهال ورته لاسرسی درلود. ما هغه منعکسول.

**دوام لري...**

# ناسا

حشمت الله نوري

ناسا د امریکا فضایي او هوانوردي سازمان دی. کله چې سړه جګړه پیل شوه او روسیې د سپوتنیک په نامه سپوږمکۍ فضا ته ولېږله، امریکا په دې فکر کې شوه چې څو ځان ته یو فضایي ملي سازمان ولري. ناسا په ۱۹۵۸ کال کې د هغه وخت د ولسمشر ایزونهاور په لاسلیک له اوږدو پوښتنو او ګروېږنو وروسته جوړ شو. توماس کیت ګلنان په هغه وخت کې د ناسا لومړنی مدیر وټاکل شو، مرستیال یې هم هیولاتیمر ګومارل شوی و، د ناسا رسمي فعالیت د ۱۹۵۸ کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه پیل شو. تر ټولو لومړنۍ سپوږمکۍ یې اکسپلورر ۱ وه.

ناسا خپل لومړنی ماموریت پیل کړ، د لومړي ځل لپاره یې امریکن ایکس ۱۵ له اتو فضانوردانو سره د ځمکې مدار ته ولېږه. د ۱۹٦۲ کال د اپرېل په ۱۲مه یوري ګاګارین د روسیې له لوري فضا ته ولېږل شو او په دې توګه نو هغه لومړنی کس و، چې په فضا کې ښکته شو. یوه میاشت وروسته امریکا هم آلن شپارد، مرکوري رادستون د مرکوري د پروژې له لارې فضا ته ولېږل او په دې توګه دوی لومړني امریکایان وو چې فضا ته ولاړل.

وروسته ناسا کمپنۍ د آپولو پروژه پیل کړه، دا د امریکا او نړۍ په علمي تاریخ کې تر ټولو مشهوره او پېژندل شوې پروژه ده. د ۱۹٦۹ کال د جون په ۲۱مه نیل آرمسترانګ او باز آلدرین د لومړي ځل لپاره د آپلو د ماموریت په لړ کې د سپوږمۍ پر مخ ګام کېښود. په دې توګه دوی لومړني کسان شول چې په فضا کې یې ګام کېښود. د آپولو پروژې په اوږدو کې ۱۲ نارینه وو پر سپوږمۍ ګام اېښی دی. د آپولو ۱۷ ماموریت له تر سره کولو وروسته هېڅ انسان تر اوسه سپوږمۍ ته نه دی تللی او سپوږمۍ ته د انسانانو وروستی سفر و.

وروسته ناسا خپلې پروژې پراخې کړې، د امریکا د حکومت پوره ملاتړ ورسره و، له ۱۹۸۱ تر ۲۰۱۱ کال پورې یې د شاتل په نامه پروژه پر مخ بېوله، د دې پروژې په لړ کې ناسا فضا ته ۱۳۵ پروازونه درلودل، چې په لړ کې یې د چلنجر او کلمبیا په څیر فاجعې هم رامنځ ته شوې. ناسا په نړیوال فضایي سټیشن کې شریکه ده، چې له ناسا پرته ۱۵ نور غړي هم لري. د دغه سازمان ۱۱ غړي په اروپایي هېوادونو پورې تړلي دي. ناسا خپل ماموریتونه د سپوږمکیو له لارې تر سره کوي چې تر ډېره یې سپوږمکۍ له ځان سره فضانوردان لېږدوي، خو داسې سپوږمکۍ هم لري چې کوم انسان نه لېږدوي؛ بلکې د کمپیوټر له لارې کنټرولېږي.

د ناسا مدیر په دغه کمپنۍ کې د پرېکړې تر ټولو مهم شخص دی. ناسا ۱۲ مرکزونه لري، د ناسا د عمومي فرمان مرکز، د څېړنو مرکز او دې ته ورته نور مرکزونه پکې فعال دي. د ناسان کلنۍ بودیجه سعودي بنه لري، چې د امریکا د فدرالي ادارې له لوري ورکول کېږي او په ۱۹٦٦ کال کې یې تر ټولو ډېره بودیجه اخیستې وه چې ۴،۴۱ میلیاردو ډالرو ته رسېده.

مخکې مو هم وویل چې فضا ته لومړنی تللی امریکایي نیل آرمسترانګ نومېږي. کله چې هغه فضا ته د تګ لپاره تیاری نیولو، سلګونه کسان یې ننداري ته راغلي وو، له رنګه زیړ آمسترانګ، د امریکن ایکس فضایي آزمایښتي بېړۍ ترځنګ ولاړ و او خلکو ته یې خپل ښی لاس ښوراوه، د بېړۍ په څنګ د امریکایي هوایي ځواکونو لیکنه او د امریکا بیرغ رسم شوی و او دغه بېړۍ له تور تیتانیم جوړه شوې وه. په هغه وخت کې ۸ فضانوردانو وکړی شول چې د همدې فضایي بېړۍ په مرسته د ځمکې مدار ته ځانونه ورسوي، دا نو په هغه وخت کې د نړۍ تر ټولو چټکه وسیله وه، چې سرعت یې په یو ساعت کې ۷۲۷۴ کیلومتره و. دغه فضایي بېړۍ اوس هم د امریکا د فضایي وسایلو په یوه ستر نندارتون کې په واشنګټن کې ننداري ته اېښودل شوې ده.

ناسا د شوروي اتحاد له فضایي سازمان سره په رقابت کې را پیدا او وده یې وکړه، کله چې یوري ګاګارین فضا ته ولاړ او په دې توګه یې ځان ته د لومړني داسې انسان لقب خپل کړ، چې د ځمکې پر مدار راګرځېدلی، یوه میاشت وروسته ناسا هم همدا کار وکړ او آلن شپارد یې د کوري فضایي پروژې په لړ کې فضا ته واستاوه. هغه د رادستون ۳ فضایي بېړۍ په مرسته فضا ته واستول شو او د ۱۸۷ کیلومترو په لوړوالي، ۱۵ دقیقې په فضا کې ودرېد. په دې توګه نو هغه لومړنی امریکایی شو چې فضا ته تللی دی.

په ۱۹٦۲ کال کې جان ګلن د مرکوري اطلس ٦ فضایي بېړۍ په واسطه فضا ته ولېږل شو او ۲٦۵ کلیومتره د ځمکې له ساحې لرې شو، هغه په پنځو ساعتونو کې درې ځله د ځمکې تر مدار را وګرځېد، په دې توګه نو لومړنی امریکایی دی چې تر ځمګه را ګرځېدلی دی. تر مرکوري پروژې وروسته چې موخه یې د ځمکې پر مدار د انسان راګرځېدل او له روسیې سره رقابت کول وو، ناسا نورې پروژې هم طرحه کړې چې په ټولو کې یې ډېرې بریاوې تر لاسه کړې. همدا پروژې وې چې په نړۍ کې د بې شمېره کشفونو لامل شوې.

د جمینای پروژه چې د ۱۹٦۲ او ۱۹٦٦ کلونو تر منځ پیل شوه، جمینای پروژه د ناسا یوه پروژه وه چې اصلي موخه یې د فضایي وسایلو ازمویل وو، دوی غوښتل هغه وسایل او وسایط و ازمویي چې فضا ته لېږل کېږي او فضانوردان باید له هغو ګټه واخلي. د دې پروژې تر ټولو اوږد سفر ۱۵ ورځې وخت ونیو، دوی په دې لړ کې له ځمکې بهر، د فضایي وسایلو پر اتصال، فضایي عملیاتو، د وسایلو ترمنځ ارتباط او دې ته ورته مسایل وڅېړل. په دغه پروژه کې ۱۲ کسه فضا ته ولاړل، چې ۲۸ میلیارده ډالره لګښت وربانديې راغی. دا پروژه همداسې دوامداره وه، دوی د جمینای په نامه ډېر پراوونه په دې پروژه کې عملي کړل، جمینای درې هغه سپوږمکۍ وې چې دوی بریالي شول دوه کسه د ځمکې پر مدار را وګرځوي. د جمینای څلور فضایي ماموریت فضانوردان لومړني کسان وو چې په فضا کې یې حرکت وکړ، دوی لومړني کسان وو چې له سپوږمکۍ را ووتل او فضا کې وګرځېدل. هینګینز ویټ هغه کس و چې د لومړي ځل لپاره یې لس دقیقې په فضا کې تېرې کړې.

تر جمینای وروسته آپولو پروژه پیل شوه، دا نو د نړۍ او امریکا په علمي تاریخي کې ځانګړې پروژه وه، د دغې پروژې په لړ کې ۱۲ انسانان، د شپږو فضایي بېړیو له لارې فضا ته ولاړل، دغو دوولسو کسانو ټولو د سپوږمۍ پر مخ ګامونه اېښې دي. ځکه د دغې پروژې اصلي موخه د سپوږمۍ پر مخ ګام اېښودل وو. دوی له ۱۹٦۹ تر ۱۹۷۲ کال پورې هر یوه په خپل وار سپوږمۍ ته سفرونه کړي دي. ټول د ساترین سپوږمکۍ پر مټ، د کنډې له فضایي سټیشن سپوږمۍ ته لېږل شوي دي. د دغې پروژې ټول لګښت تر شلو میلیاردو ډالرو پورته و. دا نو هغه څه وو چې د نړۍ په علمي تاریخ کې یې د سپوږمۍ په اړه د څېړنو نوی باب پرانیست او د انسانانو ډېرو پوښتنو ته یې ځوابونه وویل. د آپولو په پروژه کې ټول ٦ پروازونه تر سره شول چې ټول یې بریالي وو. اپولو ۱۷ وروستی او شپږم پرواز و، چې انسان په سپوږمۍ کې وګرځید او له هغې وروسته ناسا تر دې دمه کوم پرواز سپوږمۍ ته نه دی کړی. البته د سپوږمۍ پر مدار ډېرې سپوږمکۍ او فضانوردان راګرځي، خو پر سطحه یې نه دي ټیټ شوي.

د ناسا یوه بله پروژه د شاتل پروژه وه، دوی د دغې پروژې نوم سپس ټرانسپورټ اېښی و، چې مانا یې فضایي لېږ رالېږد دی. دا نو تر ټولو ستره پروژه وه چې په فضا کې یې د نړیوال فضایي سټیشن لپاره توکي لېږدول او هڅه یې دا وه چې په فضا کې تر ټولو ستر فضایي ساختمان جوړ کړي. د دغې پروژې په لړ کې د امریکا او روسیې فضایي سازمانونه سره یو ځای شول او کوښښ یې وکړ، چې په ګډه خپلې پروژې سره شریکې او د یو بل له تجربو ګټه واخلي. په ۱۹۷۳ کال کې ناسا خپل کارونه پیل کړل، اروپایي هېوادونو هم په دې برخه کې مرسته ورسره کوله، دوی به هغه وسایل د دغې پروژې له لارې فضا ته لېږدول، چې فضانوردانو او یا فضایي وسایلو اړتیا ورته لرله. دوی په دې لړ کې ۱٦ ماموریتونه مخ ته یوړل، یو وخت فضایي نوري تلسکوپونو ستونزه پیدا کړه چې د همدې پرواز په لړ کې ورغول شول.

په ۱۱۹۲ کال کې روسیې او ناسا یوه هوکړه وکړه چې له مخې به یې د فضایي لېږد را لېږد په لړ کې له یو بل سره مرسته کوي، دوی په نړیوال فضایي سټیشن کې د اتصال په هڅه کې وو، په ۱۹۸٦ کال کې چې کله چلنجر توغوندی فضا ته وتوغول شو، په فضا کې یې تر ۷۳ ثانیو وروسته انفجار وکړ، په دې لړ کې ۷ فضانوردان ووژل شول او په دویم ځل په ۲۰۰۳ کال فضایي شاتل له فضا کلمبیا ته د راګرځېدو په حال کې و، چې وچاودېد او ۱۳۵ کسان یې مړه کړل. دغه پروژه په ټوله کې ۱۳۵ فضایي پروازونه لري، چې وروستۍ راکټ یې په ۲۰۱۱ کال کې توغول شوی دی.

نړیوال فضایي تمځای (International Space Station) د ځمکې په ټیټ مدار (low Earth orbit) کې یوه سپوږمکۍ (artificial satellite) ده چې لومړۍ برخه یې په ۱۹۹۸ کې (مدار) ته ولېږل شوه. دا تمځای نن سبا په فضا کې تر ټولو لویه لاسي (مصنوعي) سپوږمکۍ ده، چې له ځمکې زیاتره په لغړو سترګو هم لیدل کېدای شي. نړیوال فضایي تمځای له فشاري رغېبلګو (pressurized modules)، بهرنیو اډانو، لمریزو هیندارو، او نورو وسایلو جوړ شوی دی. د دې تمځای د جوړېدو توکي په ټوټو ټوټو د پروټون (Proton) او سویوز (Soyuz) په نامه روسي توغندیو او همدارنګه د امریکایي فضایي ماکوګانو (Space Shuttles) له لارې فضا ته ولېږل شول.

نړیوال فضایي تمځای د روسي سالیوت (Salyut)، الماز(Almaz)، او میر (Mir) او امریکایي سکایلېب وروسته نهم تمځای دی چې وګړي پکې اوسېږي. دا تمځای له تېرو ۱۸ کلونو او د ۲۰۰۰ کال د نومبر په ۲مه د لومړي لېږد (Expedition ۱) له رسېدا راهیسې په پرلهپسې توګه هستوګن دی چې دا په فضا کې د وګړیو تر ټولو اوږد موجودیت دی، چې د میر (Mir) ریکارډ یې چې ۹ کاله او ۳۵۷ ورځې و، مات کړی دی. د بېلابېلو فضایي بېړیو لکه سویوز (Soyuz)، پراګرس (Progress)، آټومېټډ ټرانسفر وهیکل (Automated Transfer Vehicle)، ایچ-۲ ټرانسفر وهیکل (H-II Transfer Vehicle)، ډرېګن (Dragon)، او سیګنوس (Cygnus) لخوا د دې تمځای د ترمیم چارې ترسره کېږي. تر اوسه پورې د ۱۵ هېوادونو فضانوردانو له دې څخه لیدنه کړې ده.

ناسا وروسته داسې پروژې پیل کړې چې له کوم فضانورد پرته تر سره کېدې، په دې لړ کې یې مریخ او سپوږمۍ ته ډېرې داسې سپوږمکۍ لېږلې دي. دوی یو وخت مریخ ته همداسې یوه سپوږمکۍ ولېږله، اوس هم مشهوره مقوله ده په مریخ کې چې وایي: مریخ نورد په ختو کې بند دی، په ۲۰۱۲ کال کې چې کله دوی مریخ ته رباط ولېږه، هغه په مریخ کې په ختو کې ونښت او د ناسا د کلونو خواري هیڅ شوه، خو دا بندښت هم بې څه نه و، ویې ښوده چې مریخ د ژوند وړتیا لري. په ۲۰۱۲ کال کې د مریخ مشر د رباط په وسیله د لومړي ځل لپاره خپل غږ د مریخ پر مخ خپور کړ، هغه وویل، سلام زه چارلي یم، د ناسا مدیر یم، زه له تاسې سره د ځیرک رباط له لارې خبرې کوم چې اوس د مریخ پر مخ دی.

چارلز بولدن د ناسا اوسنی مدیر دی، د ناسا مدیریت د دغه سازمان د پرېکړو تر ټولو مهم مقام دی، نور مهم چارواکي یې: د مدیر مرستیال، د مدیر علمي مرستیال، د مدیر فني مرستیال، ارشد انجنیر، د اطلاعاتو ارشد افسر، د ټکنالوژۍ او علمي څېړنو ارشد مشاور.

د ۲۰۰۹ کال په مې میاشت کې چارلز بولدن د بارک اوباما له لوري د دغه اداري مشر وټاکل شو، ډېرو کسانو د ناسا له جوړښت تر دې دمه د دغه سازمان مشرتوب کړی دی. د ناسا بودیجه د امریکا حکومت ورکوي، ویل کېږي چې د امریکا د تخنیکي او علمي بودیجې له ډلې ۴۷ سلنه یې یوازې ناسا ته ورځي. کلنۍ بودیجه یې تر ۱۷ ملیاردو اوړي، د شمېرو له مخې، ۱۸ زره کار کوونکي لري چې د ناسا په بېلو برخو کې فعالیت کوي. دمګړۍ هم په بېلو برخو کې ماموریتونه تر سره کوي، ناسا اداره الوتکې جوړوي، تر ټولو نوې پروژه یې دا ده چې غواړي تر غږ چټکه الوتکه جوړه کړي. دغه اداره د نړۍ په فضایي ادارو کې تر ټولو پر مختللې اداره ده او همدارنګه کارونه هم په لوړه بیه تر سره کوي او قیمتونه یې خورا لوړ دي. اصلي مرکز یې هم په واشنګټن ډي سي کې دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۷۰ |
| € | ۹۳,۴۰ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# پنځه هغه ځانګړنې چې په ژوند کې له هرڅه ډیرې مهمې دي

ژباړه: احسان الله کریمي

**۱- باور**

باور یوازې په دې مانا نه دی چې موږ مذهبي باور ولرو، باور مانا دا چې پر ځان، پر موخو او پر کار مو باور ولری، که چېرته پر ځان باور ونه لری، ډېره سخته ده چې تاسې دې په ژوند کې یو بریالی کس واوسی.

شک کولای شي ستاسي ټولو کارونو ته زیان ورسوي، ځکه زموږ او تاسو په شاواخو کس داسې کسان ژوند کوي، چې د هر کار د کولو وړتیا لري، خو پر ځان او پر خپلو هیلو باندې شک لري او هېڅ کار نشي تر سره کولای. شک یوازې پر ځان نه؛ بلکې پر نورو هغو کسانو چې تاسو ورباندې باور لری او وروسته ورباندې شک وکړی، بیا مو نه یوازې باور له منځه ځي؛ بلکې اړیکې مو ترینګلې کېږي.

کله چې پر ځان باندې باور ونه لری، هیڅ کار نشی تر سره کولای او په دې باندې باور ولری چې ممکن دا کار له تاسې هغه کس ښه تر سره کړي. په دې وخت کې تاسو له کار څخه لاس اخلی او دا کار هغه څوک تر سره کوي چې پر ځان باندې باور ولري. تل پر خپلو وړتیاوو باور ولرئ او دا په یاد لرئ چې حتمن به له پېچلو او سختو کارونو سره مخ کیږی، خو دا خبره له یاده مه باسئ چې که پر ځان او کارونو مو باور ودرلود، بیا د هر سخت کار پر وړاندې دربدلی شی او په خپلو سترګو به د هغه کار بریا ونمانځئ. پر خپلو کارکوونکو مو باور ولرئ. پرېږدئ چې هغه خپلې دندې تر سره کړي، خپله هم هغه کارونه تر سره کړئ چې مسوولیت یې لری، باوري اوسئ او هر وخت دې داسې لارو چارو په لټه کې شئ چې د هغو پر مټ مو کارونه لا ګړندي کولی شی.

په همدې حال کې مو خپل خوراک او دغه راز وزن ته هم پاملرنه وکړئ او ورزشي کلب ته لاړ شئ. دغه موضوع درسره جدي ونیسئ، ضرور نه ده چې تاسو دې په یو نوم وتي ورزشي لوبغاړي بدل شی، یوازې دومره بس ده چې موخې مو تعقیب کړئ. زموږ او ستاسو ډېری خلک په دې باور دي چې اوس د کلب، خوراک او وزن..... یې له دې کارونو سره څه؟! خو نه، باور وکړئ دا ټول موضوعات ورسره تړلي دي.

**۲- تجربه**

دې دنیا ته موږ یو ځل راځو او یو ځل د ژوند کولو حق لرو، وخت مو په بې ځایه شیانو مه ضایع کوئ، هره ورځ، هر ساعت او هره دقیقه زموږ لپاره ډېر ارزښت لري، نو په بې ځایه شیانو یې باید ضایع نه کړو. تجربه تر لاسه کړئ او له تجربو څخه په ګټه اخیستنې مو ښه ژوند جوړ کړئ. له هر کړنې څخه لکه مسافر ګټه واخلئ، په تفریحي خپرونو کې ګډون وکړئ او له ژوند څخه هغسې چې ستاسې زړه غواړي خوند واخلئ. تجربه په ژوند کې پاتې کېږي، دا تجربې تاسو ته ښه زده کړه درکولای شي، د ستونزو په وخت مو تجربې ډېرې ښې د حل لارې درته ښیي؛ خو په دې شرط چې خپلو تجربو ته متوجې شی او له هغه ښه درس واخلی.

**۳- کورنی**

هرڅوک غواړي خپلې کورنۍ، اولادونو، مېرمنې او د نورو لپاره یو خوشحاله ژوند برابر کړي، خو کله چې د پیسو د ګټلو په هڅه کې یاست او له کورنۍ څخه مو لرې ژوند کوی، دا وخت کیدای شي څه ناڅه خوشحالي خپلې کورنۍ ته ورکړی، خو تر ټولو ستره خوشحالي ستاسو د کورنۍ لپاره ستاسو شتون دی.

**۴- میراث**

له مرګ وروسته یوازینی شی چې له تاسو پاتې کیږي، میراث دی، تاسو کولای شی هغو کسانو ته چې مینه ورسره لری، ډېر څه په میراث پرېږدی، مګر هغه وخت چې ژوندي وی، څه ډول انسان وی، ایا داسې څه مو ورته پرېښې چې په رښتیا سره مو هغوی له کړنو متاثره شي؟ خلکو ته ارزښت ورکړئ، زړه ورباندې وسوځوئ، که څوک مرستې ته اړتیا ولري، ټمبلي مه کوئ او له خپل وس او وړتیا سره سمه له هغوی سره مرسته وکړئ.

که په ژوند کې دغسې چلند تر سره کړی، باور وکړئ هېڅکله به پښېمانه نشی چې کاش دا کارونه مې تر سره کړي وای، که ورځني ژوند او یا هم کاري ساحه کې له همکارانو او شاوخوا کسانو سره مرسته وکړی، دغه به مو له مرګ وروسته نورو ته میراث پاتې شي چې ډېری خلک همدا هیله لري چې په میراث ترې یوڅه ښه عملونه پاتې شي.

**۵- له پیسو سره زیاته مینه نه لرل**

پیسې کولی شي د روغتیا، میراث او کورنۍ ساتلو کې مرسته درسره وکړي. پیسې به نویو تجربو ته نوې دروازې پرانیزي او ستاسو د باورونو ساتلو کې به مرسته درسره وکړي. مګر دا نشي کولی چې دا ټول سره یو ځای کړي. نو یوازې د پرمختګ لپاره د پیسو په لټه کې مه اوسئ. د ډېرو پیسو ګټلو لپاره پوره پوره کار وکړئ؛ بیا یې د غوره ژوند په لاره کې ولګوئ. «که هرڅومره پیسې ولرو بیا هم راڅخه پاتې کیږي، تاسو به د نړۍ ډېر لوی لوی شتمن کسان لیدلي وي چې مړه شي پرته له کفن څخه نور هیڅ نه وړي، نو بیا ولې ورباندې دومره ایمان راوړو، پیسې په داسې څه ولګوئ چې تر مرګ وروسته خلک درته دعا وکړي.» ژباړن

# اتمر: د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې د القاعده په ګډون ډېر بهرني جنګیالي فعال حضور لري

د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر وایي، القاعده شبکه د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې حضور لري. نوموړي په ترکیه کې د انتالیا په نړیواله ناسته کې ویلي، چې د القاعده شبکې ترڅنګ د ازبکستان اسلامي تحریک، د ختیځ ترکستان اسلامي حرکت، د امام البخاري خطیبه او نورې وسله والې ډلې هم د افغانستان په شمال کې فعالیت کوي. اتمر زیاته کړې، چې د دغه بهرنیو وسله والو ډلو فعالیت په کندز او فاریاب ولایتونو کې متمرکز دی، خو نوموړي د هغه ولایتونو په اړه چې القاعده شبکه پکې حضور لري، معلومات ورنه کړل.

د اتمر په خبره: «القاعده شبکه په افغانستان کې د هیرویینو او ډېرو نشه‌يي موادو په قاچاق کې ښکېله ده او هر کال ورڅخه میلیونونه ډالر لاسته راوړي... په افغانستان کې د نشه‌يي موادو، وسلو او کسانو قاچاق د طالبانو له اصلي عایداتي سرچینو څخه دي.»

د ده په وینا، له طالبانو سره د نړیوالو ترهګرو ډلو اړیکو، د سولې پر روانو خبرو هم اغېز کړی دی. هغه ټینګار کړی، چې له امریکا سره د طالبانو له تړون سره سره القاعده شبکه، د ازبکستان اسلامي حرکت او داعش له طالبانو سره اړیکې لري او د دغه ډلو وسله وال ګډ فعالیت کوي.

که څه هم طالبانو د اتمر دغو خبره ته تازه غبرګون نه دی ښودلی، خو تر دې مخکې یې ورته راپورونو ته په ځواب کې ویلي چې په دغه هېواد کې د القاعده په ګډون د نورو وسله والو ډلو جنګیالي حضور نه لري.

د بهرنیو چارو وزیر همدارنګه ویلي، چې له افغانستان څخه د امریکا او ناټو ځواکونو په وتلو سره به په دغه هېواد کې یو ځل بیا ترهګرې شبکې فعالې شي. هغه زیاته کړې چې له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو ایستلو په اړه د ناټو پرېکړې ته احترام لري، خو ویلي یې دي چې دغه کار به ناوړه پایلې ولري.

د اتمر په خبره، د ناټو ځواکونو په وتلو سره به د ښځو، لږکیو او زده‌کړو د حقونو په ګډون، د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې له منځه لاړې شي. هغه په هېواد کې د وسله والو ډلو پر وړاندې د مبارزې لپاره د نړیوالې ټولنې د پاملرنې غوښتنه هم کړې ده.

# د ایران ټاکنو ته نړیوال غبرګونونه؛

## د ښښې نړیوال سازمان: د ایران نوی ولسمشر باید د جرمونو له کبله تر جنایي تعقیب لاندې راوستل شي

د ایران د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د ابراهیم ریيسي بریا ګڼ نړیواله غبرګونونه راپارولي دي. د ښښې نړیوال سازمان ویلي، چې له نوموړي څخه باید د جرمونو په اړه څېړنې وشي. دې ډلې د ۱۹۸۸ ز کال په دوبي کې د زرګونو سیاسي بندیانو اعدام کېدو ته په اشارې ویلي چې د ایران نوی ټاکل شوی ولسمشر باید د نړیوالو جرمونو له کبله تر جنایي تعقیب لاندې راوستل شي.

د ښښې نړیوال سازمان په یوه اعلامیه کې د ۱۹۸۸ ز کال پېښې د بشریت پر ضد جنایتونه بللي دي. د یادونې ده چې د ۱۹۸۸ ز کال په دوبي کې د روح الله خمیني په امر ډېر شمېر سیاسي بندیان په داسې حال کې اعدام شول چې ابراهیم ریيسي د تهران د څارنوالۍ مرستیال او د هغه پلاوي غړی و، چې د مرګ په پلاوي مشهور و. دغه پلاوي د بندیانو د اعدامونو په اړه پرېکړې کولې.

په ورته مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم په ایران کې د ولسمشرۍ د ټاکنو پر بهیر او د ولسمشر په توګه د ابراهیم ریيسي پر ټاکل کېدو نیوکه کړې ده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند ویلي، چې د ایران د کورنیو چارو وزارت له لوري یې د ابراهیم ریيسي د بري خبر لیدلی، خو ایرانیان په یوه ازاده او عادلانه ټاکنیزه پروسه کې د خپل مشر د ټاکلو له حقه بې برخې شول.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران د کورنیو چارو وزارت وړمه ورځ اعلان وکړ چې د دغه هېواد په ټاکنو کې ابراهیم ریيسي څه باندې ۱۷ میلیونه او ۹۲٦ زره رایې خپلې کړې دي.

بلخوا اسراییل هم په ایران کې د ولسمشر په توګه د ریيسي ټاکنه غندلې او ویلي دي چې دا به د وحشي جلادانو رژیم وي. د اسراییل نوي لومړي وزیرنفتالي بینیت ویلي، چې د نړۍ زبرځواک هېوادونه باید د ریيسي له رژیم سره د نوې اټومي معاملې په اړه خبرې ونه کړي. دا په داسې حال کې ده چې د اسراییل لومړی وزیر نفتالي بینیت چې تېره اونۍ واک ته ورسېد، په خپلې لومړنۍ ټلویزوني وینا کې یې وویل چې د ایران نوی ولسمشر د ازادو او عمومي ټاکنو له لارې نه دی بریالی شوی، بلکې د هغه په خبره، د ایران د مذهبي مشر ایت الله علي خامنه یې نوموړی بریالی کړ.

هغه وویل: «زه وایم د ریيسي ټاکنه اټومي تړون ته تر بیا ورګرځېدو مخکې، د نړۍ زبر ځواکونو لپاره وروستی چانس دی، چې له خوبه رابیدار شي او پوه شي چې له چا سره معامله کوي.» نوموړي په ټلویزون کې خپله اعلامیه لومړۍ په عبري او بیا په انګلیسي ژبو ولوسته. هغه زیاته کړه: «د وحشي جلادانو رژیم ته باید اجازه ور نه کړل شي چې د ډله‌ییزې تباهۍ وسلې ترلاسه کړي. په دې اړه د اسراییل موقف نه بدلیږي.»

که څه هم ایران د دغه هېواد د تازه ترسره شویو ټاکنو په اړه نړیوالو غبرګونونو ته په ځواب کې څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې دغه ډول تورونه رد کړي دي.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۳۱مه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۱مه | ۷۳۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۱ | ۳۹ | ۳۳ | ٤۱ | ۳۲ |
| ١٤ | ۲۰ | ۲۵ | ۲٦ | ۲۵ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۴ | ماښام ۰۷:۰۴ | ماخوستن ۰۸:۴۹


# نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر درې میلیونه او ۸۷۷زره او ۷٦۹ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۹ میلیونه او ۷۵زره او ۳۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۸۷۷زره او ۷٦۹ کسان مړه شوي او له ۱٦۳ میلیونو ډېر تړي ببرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۴۰۱زره او ۷۹۸ ته رسېدلې او ٦۱۷ زره او ۹۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۲۹ میلیونه او ۹۱۱ زره او ۲۴۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۷ میلیونه او ۸۸۳زره او ۷۵۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۵۵ زره او ۴۹٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او۳٦۵ زره او ۲۰۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
روسیه، برېتانیا، ارجنټاین، ایټالیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## د بشري حقونو ملاتړي بنسټونه: په امریکا کې د کډوالو منل کېدو اوسنی بهیر د اندېښنې وړ دی



د بشري حقونو یوشمېر ملاتړي بنسټونه وايي، که امریکایي چارواکي بېړني اقدامات ونه کړي، نه شي کولی چې تر اکتوبر میاشتې د کډوالو مشخص شمېر، چې د منلو کېدو ژمنه یې شوې وه، ومني.
دا په داسې حال کې ده چې د جوبایډن حکومت د مخکني ولسمشر دونالډ ټرمپ د حکومت په پرتله د کډوالو منل څلور برابره زیات کړي دي.
د کډوالۍ او پناه غوښتونکو اداري مشر کرش اومیریا ویګناراجا وايي: «سره له دې چې د جوبایډن اداري د کډوالو منل زیات کړي او د منل کېدو محدودیتونه یې لېرې کړي، خو د روان کال له پیل راهیسې متحدو ایالتونو یوازې ۳٦۰۰ کډوال منلي دي.»
تر دې مخکې ولسمشر بایډن ویلي وو چې بنايي سږکال ٦۲۵۰۰ کډوال ونه شي منلی. د نوموړي په خبره: «موږ د تېرو څلورو کلونو د زیانونو د جبرانولو په حال کې یو. ډېر وخت به ونیسي، خو کار کېږي.»
د بشري حقونو ملاتړې ډلې وايي، د امریکا متحده ایالتونو له تېرو ۳۰ کلونو راهیسې هرکال شاوخوا ۹۵ زره کډوالو ته اقامه ورکړې ده. مخکني ولسمشر دونالډ ټرمپ دا شمېره د کال ۱۵ زرو ته راکمه کړې وه.
ولسمشر بایډن بیا ویلي، چې بل کال به د منل کېدونکو کډوالو شمېر ۱۲۵ زرو ته لوړ کړي.


## ویلسن: امریکا با همسایه‌گان افغانستان برای حمایت از پناهنده‌گان و آواره گان داخلی همکاری می کند



سفارت امریکا در کابل به مناسبت روز جهانی پناهنده‌گان اعلام کرد که این کشور قصد دارد تا با همسایه‌گان افغانستان به خاطر حمایت از بی‌جاشده‌گان و مهاجران افغان همکاری کند.
راس ویلسن، شارژدافیر سفارت امریکا در کابل، دیروز با نشر تویت به مناسبت روز جهانی پناهنده‌گان گفت که این کشور از نزدیک با همسایه‌گان افغانستان برای حمایت از پناهنده‌گان، مهاجران و آواره گان داخلی همکاری خواهد کرد.
به گفته سرپرست سفارت امریکا در کابل، در سال روان ۱۵۰ هزار نفر در افغانستان بی‌جا شده‌اند.
در همین حال، راس ویلسن نوشته است: «ما با پناهنده‌گان هستیم و از نزدیک با همسایه‌گان افغانستان و جامعه بین‌المللی همکاری می کنیم تا از پناهنده‌گان، مهاجران و آوارگان داخلی افغان حمایت کنیم.»
وی هم‌چنان از کمک بیش از ۲٦٦ میلیون دالر برای مبارزه با ویروس کرونا در افغانستان یادآوری کرده است. ویلسن در تویترش نوشته است که دادن قرضه، بخش اساسی مشارکت پایدار امریکا با افغانستان است.
این درحالیست که افغانستان به دلیل سال‌ها جنگ یکی از بزرگ‌ترین کشورهای مبدا مهاجرت در جهان است. در عین حال وزارت مهاجرت و عودت کنندگان نیز می گوید که در حالت ادامه جنگ در کشور هزارها خانواده دیگر نیز خانه های شان ترک خواهند کرد.

# ژوند

## د ویوو ارزان بیه ۵جي موبایل




ویوو کمپنۍ خپل نوی ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل وای۵۴ ایس ۵جي نومول شوی دی او د ۲۰۱۷ وای۵۳ نوې او پرمختللې بڼه ده. دغه ځیرک موبایل ٦,۵۸ انچه ایل سي ډي ډوله ایچ ډي پلس مخپاڼه لري چې له ۹۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۴۸۰ ډوله پروسېسر، ۸ ګېګابایټ رم او ۲۵٦/۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې ده. دغه موبایل ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري، چې له ۱۸ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې دوه کامرې لري، چې اصلي کامره یې ٦۴ مېګاپکسله وړتیا لري. مخکینۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه موبایل د ۱۲۸ ګېګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۱۷۹۹ چینایي یوان او د ۲۵٦ ګېګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه بیا ۱۹۹۹ چینایي یوان ټاکل شوې ده.

## د ماشومانو رواني روغتیا او بوختیا



د کرونا ویروس د وبا پر مهال ټول ښوونځي او بهرني فعالیتونه په ټپه درېدلي، چې په همدې سبب ماشومان هم تر ډېره په کور وي. روغتیایي کارپوهان وايي د کرونا وبا په سبب د ماشومانو روټین یا معمول تر ډېره زیانمن شوی، چې په همدې سبب یې په طبیعت کې غوسه او ضد ډېر شوي دي. نو په دې حالاتو کې والدینو ته پکار ده چې د خپلو ماشومانو لپاره یو مهالویش جوړ کړي او په هغه کې دې زده کړو، لوبو، موبایل/کمپیوټر/ټلویزیون، بهر ته تګ او تخلیقي فعالیتونه شامل کړي. له ماشومانو سره داسې چلند غوره نه کړئ چې په بشپړ ډول یې کنټرول کړی او د هغوی احساساتي او رواني اړتیاوې له پامه وغورځوی. که داسې وشي نو دغه ډول ماشومان له والدینو لرې کېږي او په احساساتي ډول کوم بل ځای سره اړیکه پیدا کوي، چې دا د روزنې خطرناک ډول دی. په دې ډول د ماشومانو تر منځ کینه، حسد او رقابت پیدا کېږي، چې لوی لامل یې والدین دي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank